د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

گڼه: 511

(18 - 24 حمل 1405 هـ ش)

# پر افغانستان د ایران-متحده ایالاتو او صهیونستي رژیم د جګړې اغېزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- پر افغانستان د ایران-متحده ایالاتو او صهیونستي رژیم د جګړې اغېزې ................................3
- سیاسي-امنیتي اغېزې ..........................................................................4
- اقتصادي اغېزې..............................................................................6
- پر افغان کډوالو یې اغېزې..................................................................7
- پایله ...........................................................................................8
- وړاندیزونه ....................................................................................8
- سرچینې .......................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)


## پر افغانستان د ایران-متحده ایالاتو او صهیونستي رژیم د جګړې اغېزې

**سریزه**

افغانستان د خپل غوره جغرافیایي موقعیت له امله د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر پاتې شوی؛ له بریتانوي، شوروي او امریکایي نفوذ څخه تر سیمه ییزو جګړو پورې دغه خاوره د ګډو ګټو د ټکر ځای پاتې شوی دی. کله هم چې یو هېواد ښه جغرافیایي موقعیت ولري، بیا نړیوالې او سیمه ییزې شخړې هم پرې ډېر ژر اغېز کوي. د روان ۲۰۲٦ز. کال د فبرورۍ پر ۲۸مه، متحده ایالاتو او اسرائیلو پر ایران برید وکړ، وروسته له دې چې څو اونۍ د پوځي چمتوالي او د ولسمشر ټرمپ له ګواښونو تېرې شوې. پراخې حملې د ایران پر نظامي شتمنیو او د اسلامي جمهوریت پر لوړپوړو مشرانو تمرکز وکړ، د ایران ستر مذهبي مشر، آیت‌الله علي خامنه‌اي، د دې پېښې قرباني شو. د تهران د «مجلس خبرګان» د آیت‌الله علي خامنه‌اي زوی، مجتبي خامنه‌اي، د هغه د ځای ناستي په توګه وټاکه. ایران په ځواب کې په سیمه کې د متحده ایالاتو پوځي اډې او د صهیونستي رژیم او خلیجي هېوادونو د انرژۍ تاسیسات په نښه کړل. د شمېرو له مخې، د ۲۰۲٦ کال د اپرېل تر ۴ او ۵ نېټې پورې، په دې جګړه کې ۲۰۷٦ ایرانیان قرباني شوي او ۲٦۵۰۰ تنه ټپیان شوي دي. ۲۴ اسراییلیان وژل شوي او ٦۵۹۴ ټپیان دي، ۱۳ امریکایي نظامیان وژل شوي او ۲۰۰ ټپیان دي.1 دغه جګړه ډېر ژر په یوه پراخه جګړه بدله شوه او نږدې ټول منځنی ختیځ په کې دخیل شو. د دې ترڅنګ ایران د هرمز تنګی هم بند کړ چې له امله یې په نړۍ کې د انرژۍ بحران رامنځته شو او اوس نړیوال هڅه کوي چې دغه تنګی پرانېزي، تر دې چې د نړیوالې انرژۍ اداره (IEA) اړ شوه چې له خپلو ستراتیژیکو زیرمو څخه ۴۰۰ میلیونه بېلره نفت بازار ته وړاندي کړي.

دا چې دې جګړې د افغانستان پر سیاسي، اقتصادي او امنیتي حالاتو کومې اغېزې لرلې؟ دا هغه پوښتنه ده چې د ځواب لپاره یې دا تحلیل لیکل شوی دی.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)




## سیاسي-امنیتي اغېزې

د ایران بې‌ثباتي پر اسلامي امارت سیاسي او امنیتي اغېزې لري. که څه هم تهران تراوسه اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی، خو له ۲۰۲۱ز. کال راهیسې یې ډیپلوماټیکې اړیکې ورسره ساتلې دي او د اسلامي امارت له مهمو سیمه‌ییزو همکارانو څخه ګڼل کېږي. سره له دې چې ایډیولوژیک توپیرونه، تاریخي دښمني او کله ناکله سرحدي او د اوبو شخړې موجودې دي، خو بیا هم په تېرو نږدې پنځو کالو کې دواړو

هېوادونو نږدې سیاسي اړیکې پاللي دي. د اسلامي امارت او ایران په همکاریو کې د دواړو هېوادونو تر منځ د نږدې ۹۰۰ کیلومتره ګډ سرحد مدیریت، د اوبو موضوعات، کډوال، سوداګري او امنیتي همکارۍ شاملې دي. له متحده ایالاتو سره ګډه دښمني د دې لامل شوې چې د ایران او اسلامي امارت اړیکې له ۲۰۲۱ز. کال څخه مخکې رامنځته شي او د ځینو راپورونو پر بنسټ ایران حتی له اسلامي امارت سره د وسلو مرسته هم کړې[2]، چې د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته پخوانۍ مخینې ته په کتو اړیکې لا پیاوړې شوې.

که په روانه جګړه کې د ایران اسلامي جمهوریت سقوط کوي او نظام له منځه ځي، نو له یوې خوا به اسلامي امارت خپل یو مهم سیمه ییز سیاسي شریک له لاسه ورکړي او له بلې خوا راتلونکی نظام که ډیموکرات وي او یا هم د متحده ایالاتو پلوی نظام وي، نو له اسلامي امارت سره به خپلې اړیکې له سره وارزوي او د دې امکان شته چې د دواړو هېوادونو اړیکې یو څه سړې شي، ځکه له اسلامي امارت څخه د متحده ایالاتو غوښتنې به بیا د ایران د نوي نظام غوښتنې شي چې هغه اسلامي امارت ته د منلو وړ نه دي، چې دغه اختلاف کېدای شي د دې لامل شي چې ډیپلوماټیک استازیتوب، سرحدي همکاري او اقتصادي اړیکې ټولې بیاکتنې ته لاړې شي، چې پکې د افغانستان سفارت او قونسلګریو ترړل هم شامل دي، کوم چې دا مهال د اسلامي امارت تر استازیتوب لاندې دي. دا ډول بدلونونه به د افغانستان په لوېدیځ سرحد کې بې‌ثباتي زیاته کړي او پر طالبانو به اضافي بارونه واچوي، لکه اقتصادي او امنیتي لګښتونه، چې دا خپله د افغانستان پر امنیتي-سیاسي وضعیت د ایران او متحده ایالاتو د جګړې منفي اغېزې دي.

د یو لوی سیاسي سقوط یا د رژیم بدلون له امله کېدای شي ځینې سختدریځي خېږې یا وسلهوال عناصر له ایران څخه بهر د پناه ځای په لټه کې شي، چې کېدای شي تر ټولو ښه او نږدې ځای ورته افغانستان وي او که دا کار ترسره کېږي، نو له امنیتي او سیاسي اړخه پر افغانستان منفي اغېزې لري، ځکه افغانستان اوس هم د ترهګرو ډلو په پټنځای بدنام دی او که ایراني سختدریځه هم دلته راشي، نو له غرب، عربي او سیمه ییزو هېوادونو سره یې کېدای شي پر سیاسي اړیکو هم منفي اغېزه وکړي. همدارنګه که له ایران څخه د اوسني نظام ځینې نظامیان افغانستان ته راشي، نو د دې امکان شته چې پر نوي نظام به له دې ځایه بریدونه کوي او په مقابل کې به د ایران نوی حکومت پر دوی بریدونه کوي چې له امنیتي پلوه د افغانستان لپاره بدې پایلې لرلی شي او له ایران سره به پوله ډېره ناامنه شي.

له دوه‌اړخیزو اړیکو هاخوا، په ایران کې سیاسي بدلونونه به د افغانستان پر کورني سیاست هم اغېز وکړي. د لسیزو راهیسې، ځو مهم سیاسي ګوندونه چې هم شیعه او هم غیر شیعه دي، لکه حزب وحدت اسلامي، حزب حرکت اسلامي، حزب جمعیت اسلامي او نور... له تهران سره نږدې اړیکې لري. که دا اړیکې ګډوډې شي، نو د نفوذ او منځګړیتوب موجود چینلونه به هم له منځه ولاړ شي او سیاسي ابهام به زیات شي. همدارنګه

دا خطر هم شته چې دغه سیاسي مشران او یا د هغوی اړوند کسان، چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له سقوط وروسته ایران ته تللي وو، بېرته افغانستان ته وشړل شي.

بله سناریو دا ده چې کېدای شي د ایران اوسنی جمهوري نظام سقوط ونکړي، البته که سقوط ونکړي، نو کمزوری خو به شي او د کمزوري ایران رامنځته کېدل پر افغانستان دوه ډوله اغېزې لري، یو يې مثبتې اغېزې دي او هغه دا چې د افغانستان اکثره ګاونډیانو اتومي قدرتونه دي او په داسې حالت کې یو بل ګاونډی هم که اتومي قدرت کېږي، نو دا په راتلونکي کې پر افغانستان منفي امنیتي اغېزې لرلی شي، چې ښه بېلګه يې پاکستان سره د افغانستان اوسنی اړیکې دي، نو که د افغانستان په ګاونډ کې یو کمزوری ایران رامنځته کېږي معنی يې دا ده چې هغه به اتومي وسله نه لري چې دا له امنیتي پلوه پر افغانستان مثبتې اغېزې لري. دویمه اغېزه يې منفي ده او هغه دا چې د ایران کمزوري کېدل له اقتصادي اړخه پر افغانستان منفي اغېزه لري او کېدای شي په دوه اړخیزه سوداګرۍ کې کمښت رامنځته شي.

### اقتصادي اغېزې

ایران د افغانستان له مهمو اقتصادي شریکانو څخه ګڼل کېږي. په ۲۰۲۵ز. کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سواګري نږدې ۳٫۵ میلیارده ډالرو ته لوړه شوه او له پاکستان سره د ۲۰۲۵ز. کال له اواخیرو څخه تراوسه پورې د لارو بندېدل له ایران سره د سوداګرۍ د لا لوړتیا ښودنه کوي. افغانستان په وچه کې رایسار هېواد دی چې دوه ګاونډیان يې پاکستان او ایران سمندر ته لار لري، نږدې شپږ میاشتې کېږي له پاکستان سره دروازې تړل شوي او لاره بنده ده، خو د افغانستان پر مارکیټ يې اغېزې کنټرول شوې او د ایران له بدیلې لارې څخه ګټه واخیستل شوه، خو دا چې اوس ایران تر برید لاندې، نو طبعي ده چې دا د افغانستان پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزې لري. دغه اغېزې په څو برخو کې واضح کولای شو: یو، د پاکستان له لارې د کراچۍ او ګوادر سمندریزه لاره د افغان سوداګرو پرمخ بنده ده او اوس د عباس بندر او چابهار بندر هم د ناامنۍ او د صهیونستي رژیم او متحده ایالاتو د برید د ګواښ له امله تقریباً بند دي، چې له امله يې هغه سوداګري چې د عربي او نورو هېوادونو سره د سمندر له لارې ترسره کېده تقریباً صفر ته نږدې ده چې دا د افغانستان پر اقتصادي وضعیت منفي اغېزه کوي. دویم، افغانستان له ایران څخه ۵۸۴ قلمه مواد واردوي چې په دې کې اکثره خوراکي توکي دي، ایران د جګړې له امله د کرنیزو او خوراکي توکي پر صادراتو بندیز ولګولو[3] تر څو خپل داخلي اړتیاوې پوره کړي چې دې کار د افغانستان د خوراکي توکو پر بازار منفي اغېزه وکړه او نرخونه ورسره لوړ شول چې رومیان او الوګان يې د نمونې په ډول د یادونې وړ دي. درېیم، افغانستان پاکستان ته نږدې ۶۰۰ میلیونه ډالره او ایران ته نږدې ۷۰ میلیونه ډالره صادرات لري او له دغو دواړو هېوادونو څخه نږدې ۵ میلیارده ډالرو په ارزښت توکي واردوي، د دې ترڅنګ له نورو نړۍ سره د



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

افغانستان اکثره سوداګري د همدغو دواړو هېوادونو له لارو څخه ترسره کېږي، د ایران له جګړې وروسته چې کله د دغه هېواد سمندریزه لاره هم بنده شوې، نو د پاکستان او ایران د دواړو لارو د بندېدو له امله د افغانستان ٦٦،١ سلنه واردات او ٨١ سلنه صادراتو لاره بندیږي چې دا د افغانستان پر اقتصادي وضعیت ستره منفي اغېزه ده. څلورم، په عمومي ډول جګړې د هېوادونو پر اقتصادي بازارونو رواني اغېزې هم لري او د ایران جګړې د افغانستان پر بازار هم رواني اغېزې کړې دي، په دې معنی چې سوداګر د جګړې له امله د ځینو توکو احتکار ته مخه کوي او یا هم د هغې نرخ لوړوي او داسې فکر کوي چې دغه جګړه به په بازار کې توکي له کمښت سره مخامخ کړي او دوی به یې بیا په لوړ نرخ وپلوري او یا دا جګړه د ځان لپاره فرصت ګڼي او هغه توکي چې هیڅ له ایران څخه واردیږي نه، د هغوی نرخ هم لوړوي.

## پر افغان کډوالو یې اغېزې

د ایران د جګړې بله ستره اغېزه په دغه هېواد کې پر افغان کډوالو ده. ایران له ۴ میلیونو څخه زیات افغان کډوال او کارګر لري. په تېرو کې، هر کله چې په ایران کې اقتصادي ستونزې یا سیاسي بې‌ثباتي رامنځته شوې، د بهرنیانو پر وړاندې کرکه، تبعیض او پر کډوالو سخت چلند زیات شوی، چې پکې جبري ایستل، بندي کول، د کار محدودیتونه او حتی اعدامونه شامل وو. په دې وروستیو کې، د صهیونستي رژیم سره له ۱۲ ورځنۍ جګړې وروسته، افغان کډوالو د چاپو، نیونو، ډله‌ییزو ایستلو او له بهرنیو هېوادونو سره د همکارۍ تورونه پرې ولګول شول او له همدې امله یا اجباري اخراج شول او یا هم په جزا ورسول شول. د ایران او متحده ایالاتو په اوسنۍ جګړه کې هم د افغان کډوالو په اړه یو نظر دا دی چې له جګړې مخکې په لاریونونو کې دوی فعاله ونډه لرله او یا یې هم د بهرنیانو د مادي امتیازاتو په مقابل کې دغو لاریونونو کې فعالیت کاوه. له همدې امله ایران د افغان کډوالو نیونو او اجباري اخراج ته مخه کړې او دا پر افغان کډوالو د دې جګړې منفي اغېزې دي.

ایران غواړي د افغان کډوالو قضیه امنیتي (Securitization) کړي او داسې وښایي چې افغان کډوالو د ایران او صهیونستي رژیم په جګړه کې موساد ته جاسوسي کړې  او د ایران د امنیت لپاره اړتیا ده چې افغان کډوال وویستل شي. په دومره لوړ شمېر د ایران له لوري د افغان کډوالو اجباري اخراج اسلامي امارت له سختو ننګونو سره مخامخ کړی دی، له یوې خوا یو انساني بحران رامنځته شو چې مدیریت یې اسلامي امارت لپاره ستونزمن دی، له بلې خوا کېدای شي افغاني ټولنه له سختو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان شي په ځانګړي ډول د فقر او بې کارۍ د کچې لوړېدل، د قیمتونو او پر بازار د فشار لوړېدل، پر زېربناء د فشار زیاتېدل او داسې نور... همدارنګه کېدلای شي چې ځینې امنیتي ستونزې هم رامنځته شي او دا په دوه ډوله د تحلیل وړ دي: یو دا چې کېدای شي د دغو کډوالو په منځ کې استخباراتي اشخاص افغانستان خاورې ته


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

رادننه شي او دویم دا چې د فقر او بې کارۍ له امله کېدای شي دغه افغان کډوال له ځینو ډلو سره یوځای شي، په ځانګړي ډول له هغو ډلو سره چې د اسلامي امارت خلاف دي او دا به د افغانستان پر امنیتي وضعیت منفي اغېزه وکړي.

## پایله

د ایران–متحده ایالاتو او اسراییلو جګړه د افغانستان لپاره یوازې یوه بهرنۍ شخړه نه ده، بلکې څو اړخیزې ژورې سیاسي، امنیتي او اقتصادي اغېزې لري. دا تحلیل ښیي چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت له امله بیا هم د سیمې د قدرتونو د ټکر مستقیم او غیرمستقیم فشارونه زغمي.

له سیاسي او امنیتي پلوه، د ایران کمزوري کېدل یا احتمالي بدلون د اسلامي امارت لپاره د یو مهم سیمه‌ییز شریک له لاسه ورکولو معنی لري، چې دا به د بهرني سیاست، سرحدي مدیریت او سیمه‌ییزو اړیکو په برخه کې نوي ننګونې رامنځته کړي. همدارنګه، د ایران بې‌ثباتي کولای شي د سرحدونو ناامني زیاته کړي او افغانستان د احتمالي نوو وسله‌والو یا سختدریځو ډلو د پناه ځای په توګه لا ډېر تر فشار لاندې راولي.

له اقتصادي اړخه، جګړه د افغانستان لپاره یو جدي ضربه ده. د ایران له لارې سوداګریز مسیرونه محدودېږي، د خوراکي توکو عرضه کمېږي، بیې لوړېږي او د افغانستان د وارداتو او صادراتو لویه برخه له خطر سره مخ کېږي. د بدیلو لارو نشتوالی او پر پاکستاني لارو محدودیتونه دا ستونزه لا پېچلې کوي.

تر ټولو درنې پایلې د افغان کډوالو لپاره لري، په ایران کې د کډوالو پر وړاندې فشار، نیونې او جبري اخراج نه یوازې یو بشري بحران رامنځته کوي، بلکې دا کسان چې بېرته افغانستان ته ستنېږي، د اقتصادي، ټولنیزو او امنیتي ستونزو د زیاتېدو لامل ګرځي. دا به د بې‌کارۍ، فقر او احتمالي ناامنۍ کچه لوړه کړي او د نظام لپاره به د مدیریت یو ستر ازمېښت وي.

په مجموع کې، دا جګړه ښیي چې افغانستان لا هم له بهرنیو بدلونونو څخه ژور اغېزمن کېږي او که اسلامي امارت غواړي له دې حالته ځان وساتي، نو اړتیا ده چې د اقتصاد د تنوع، د سیمه‌ییزو اړیکو د توازن او د داخلي سیاسي ثبات په برخه کې عملي او اوږدمهاله ګامونه واخلي، که نه نو دا ډول بحرانونه به په راتلونکي کې هم د افغانستان لپاره درنې پایلې ولري.

## وړاندیزونه

1. اسلامي امارت ته په کار ده چې خپل بهرنی سیاست له یو اړخیز تکیې څخه وباسي او د سیمې له بېلابېلو هېوادونو سره متوازنې اړیکې جوړې کړي، څو د هر ډول بدلون پر مهال بدیلونه ولري.

2. اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د سوداګرۍ لپاره بدیلې لارې په ځانګړي ډول د مرکزي اسیا مسیرونه او هوايي دهلېزونه باید په پام کې ونیول شي او په دې اړه اوږدمهاله پلان ترتیب کړي تر څو د یوې یا دوه لارو بندېدل د افغانستان اقتصاد فلج نه کړي.
3. په اقتصادي برخه کې، د بېړني حالت لپاره واضح پلان ته اړتیا ده، لکه د خوراکي توکو ذخیره کول، د نرخونو کنټرول او د احتکار مخنیوی، څو د بازار بې‌ثباتي مهار شي.
4. له امنیتي پلوه، د ایران پر پوله کنټرول باید پیاوړی شي او د احتمالي وسله‌والو د داخلېدو مخه ونیول شي. په پای کې، د داخلي ثبات د ساتلو لپاره اړینه ده چې حکومت یو څه سیاسي انعطاف وښيي او له خلکو سره د باور فضا رامنځته کړي، ځکه داخلي مشروعیت د هر ډول بهرني فشار پر وړاندې تر ټولو قوي سپر بلل کېږي.

## سرچیني

[1] AJLabs. "US-Israel attacks on Iran: Death toll and injuries live tracker", Aljazeera, 3rd April 2026, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2026/3/1/us-israel-attacks-on-iran-death-toll-and-injuries-live-tracker

[2] R. Ayar. "Instability Next Door: Iran's Crisis and Its Implications for Afghanistan", Middle East Policy Council, March 18, 2026, Access link: https://mepc.org/commentaries/instability-next-door-irans-crisis-and-its-implications-for-afghanistan/

[3] Veda Qalandari. "Iran bans all agri-food exports to protect domestic supply", Pajhwok Afghan News, March 4, 2026, Access link: https://pajhwok.com/2026/03/04/iran-bans-all-agri-food-exports-to-protect-domestic-supply/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000